# پښتونخوا کښې
# د ترهګرۍ مسئله او قامي حقونه

ګلزار خان

د روانو چارو په رڼا کښې تر د بې نظير بوټو د مرګ او بيا د پښتنو د خپلو سيمو نه په ګڼ شمېر راويستل دوه داسې لويې پېښې دي چې داسې ښکاري چې د دې په شا څۀ معمولي مقصدونه نۀ دي پټ او کېدے شي چې دا روان واقعات په دې سيمه کښې څۀ ډېرې غټې تبديلۍ راولي او د دې تبديليو زيات اثرات کۀ هغه ښۀ وي او کۀ بد وي په پښتون قام به وي. هسې خو د پښتون قام په تاريخ کښې ډېر لوئے لوئے انقلابونه راغلي دي چې په نتيجه کښې ئې پښتون قام ځائے په ځائے ځپلے شوے او د امو نه د اباسين پورې په مختلفو طريقو د دوي په ضد جګړې او شدت پسندي پېدا کړې شوې ده او بيا دې ته د جګړې شکل ورکول او په نتيجه کښې ئې د خپلو سيمو نه راوښکل او په کډه کولو مجبورول دي. په دې لړ کښې د پښتنو د



هجرت درې لوئے مثالونه د تاريخ حصه ده چې پکښې اولنے په پښتنو هغه افت ؤ چې د مغلو بادشاه (الغ بېګ د بابر ترۀ) د پښتنو سل نوموړي مشران بې دريغه ووژل او په قبيله کښې ئې يو ماشوم چې عمر ئې اوولس کاله ؤ، په ډېره خوارۍ او زارۍ پرېښودو چې نوم ئې ملک احمد خان ؤ د چا په مشرۍ کښې چې پښتنو دې سيمې ته هجرت وکړو.

دوېم هجرت په پښتنو هغه وخت راغے چې کله روس په افغانستان کښې قدم کېښود او د يو جنګ په نتيجه کښې دوي د خپلو سيمو نه هجرت وکړو.

د هجرت درېم او دردناک عمل هم نن روان دے چې په کښې په سوېلي او شمالي پښتونخوا کښې د پېدا کړے شوي جنګ په نتيجه کښې پښتانۀ په کډه کولو مجبور کړے شول او يو ځل بيا په ګڼ

شمېر پښتانۀ تالا والا شول او د يوې اندازې مطابق ۲۵ لکه پښتانۀ د شمالي پښتونخوا او ٦ لکه پښتانۀ د قبائلي سيمې نه بې کوره شول. د افسوس خبره دا ده چې د پښتون قام تباهي د څۀ قدرتي افتونو مثلاً زلزلې، قحط يا وبا په وجه نۀ وه بلکې هغه انساني افتونه وو چې پکښې عوامل خارجي وو چې د دوي په زيان او نسل کُشۍ ئې خپله ګټه کوله. دا قصه نن هم روانه ده او مونږ وينو چې پښتون قام د خپل تاريخ په هغه درشل ولاړ دے چې ورته د خپل سباوون لار نۀ ښکاري. په دې سيمه کښې د مذهب او سياست په جامه کښې دوي سره هغه چارې رواني دي چې په کښې د دوي مال، ځان او قامي شناخت لکه د دوي د ماضي په شان يو ځل بيا د ستونزو سره مخ دے.

هسې خو د سوات خلقو په تېر شوي اليکشن کښې عوامي نېشنل پارټۍ ته په ګڼ شمېر ووټ ورکړو او د عوامي نېشنل پارټۍ ولاړ ټول اميدواران ئې کامياب کړل او په دغه عمل دوي دنيا ته څرګنده کړه چې پښتون قام يو روښن خياله، ترقي پسند، امن خوښوونکي او جمهوري سوچ لرونکي خلق دي او د اليکشن نه پس چې شدت پسندۍ په سوات کښې زور ونيولو نو صوبائي حکومت په مرکزي حکومت او په خصوصي توګه فوځيانو ته د اپرېشن خواست په دې غرض وکړو چې په سيمه کښې د خلقو سياسي، معاشي او اولسي ژوند بحال شي. خو د بده مرغه چې کله فوځيانو په مومندو، باجوړ او نورو سيمو کښې فوځي اپرېشن شروع کړو نو په نتيجه کښې ئې بې ګناه خلق مړۀ شول، بې کوره شول او وځپلي شول او



په ګڼ شمېر چې د يوې اندازې مطابق پنځۀ ويشت لکه خلق د خپلو سيمو نه په هجرت مجبوره شول، کۀ چرې دا تعداد صحيح وي نو د مشرقي تېمور او د روانډا نه پس په نړۍ کښې دا د ټولو نه غټه انخلا ده. په دې ټول جنګ کښې کۀ يو خوا د شمالي، سوېلي او قبائلي سيمې پښتونخوا خلق د پېښور وادۍ ته راغونډ شول او د صوبائي حکومت انتظامي ډانچه ئې وخوځوله نو بلې خوا ترهه ګرو د پښتنو مشران په تېزۍ وژل شروع کړل چې پکښې ډېر نامتو سياستدانان هم شامل دي او شايد هم دغه وجه وه چې صوبائي حکومت د يوې خوني خانه جنګۍ نه د بچ کېدو دپاره يوه داسې فېصله وکړه چې هغه د دوي د منشور حصه نۀ وه خو د امن راوستو دپاره ئې د عدل معاهده په دې طمع وکړه چې طالبان به وسله کېږدي، جګړې به پرېږدي او په دې سيمه به امن قائم شي خو د بده مرغه هغوي د وسلو کېښودو په ځائې د پښتونخوا په نورو سيمو يرغل وکړو او په دې ټول جنګ کښې تر اوسه په سوونو تعليمي اداري، هسپتالونه، پلونه او سرکاري عمارتونه وران کړے شو چې د والئ سوات د وخت جوړ کړي شوي وو. د دوي شخصي حکومت چې ورسره خو په ګڼ شمېر فوځيان او وسلې نۀ وې خو د دې باوجود هم د سوات خلقو د

دغه ادارو قدر کړے ؤ او دې ته ئې هېڅ قسمه نقصان نۀ ؤ رسولے. د والئ سوات په وخت کښې د پاکستان د نورو سيمو په مقابله کښې د سوات خلق د ټولو نه زيات تعليميافته ګڼلے شول او چې کله د سوات رياست پاکستان له ورکړے شو نو هغلته په ګڼ شمېر تعليمي ادارې موجودې وې. په تېرو دوه ځلوښت کالو کښې د پاکستان سره د شاملېدو نه پس د سوات سياحت، تجارت او تعليم له يو خو په هغه رفتار ترقي ور نۀ کړې شوه او بل خوا شدت پسندو د والئ سوات جوړې کړې شوې هغه ټولې ادارې ورانې کړې چې د يوې شمېرې تر مخه زيان ئې د پنځوس اربه روپو نه کم نۀ دے.

د پښتنو د تعليمي ادارو راغورځولو خبره ځۀ نوې نۀ ده. د باچا خان او د هغۀ د خدائي خدمتګار جوړې کړې خواوشا سل تعليمي ادارې د لندن تعليميافته يو بې ډيرې چارواکي قيوم خان ورانې کړې وې او بل خوا ترهګرو د توري کرښې نه اخوا هم د پښتنو ټولې تعليمي، ثقافتي ادارې رنګې کړې وې او دا سلسله ختمه شوې نۀ ده او ورځ په ورځ په زياتېدو ده.

په پاکستان کښې کۀ د پښتنو تېر شوي ژوند ته سرے په غور پام وکړي نو دا خبره څرګندېږي چې دوي د خپلو حقونو دپاره تر اوسه په امن او جمهوري طريقه خپل اواز اوچت کړے دے خو دا خبره د فکر وړ ده چې واکمن په دې خبره نۀ پوهېږي. کۀ يو خوا د نوم په لړ کښې پښتون قام د پاکستان په نقشه کښې دننه خپل نوم اچول غواړي او کۀ بل خوا د صوبائي حقونو آئيني حق غواړي نو هغه هم نۀ ورکړے کېږي او هم په دغه ډول کۀ بل خوا بلوچ قوم د دې نقشې نه ځان وېستل غواړي نو هغوي سره هم د تشدد نه ډکه مبارزه روانه کړې شوې ده او کۀ لږ په شا لاړ شو نو مونږ ته د بنګاليانو هغه غوښتنې رايادېږي چې په کښې صرف سياسي، معاشي او اولسي خپلواکي شامله وه خو هغوي ته هم د دې په ځائے قامي ازادي د يوې خونړۍ جګړې نه پس ورکړې شوه. مقصد د خبرې دا دے چې نن هم د نولس سوه درې اويايم د متفقه آئين باوجود هم د قامي خپلواکۍ په لار کښې بې شماره خنډونه ودرولے شوي دي. ځکه نن هم د ملک دننه د وړو قامونو له اړخه ګڼ شمېر د سياسي، اولسي او معاشي خپلواکۍ مطالبې کولې شي او د دې دپاره په ځنې علاقو کښې د تشدد لاره غوره کړې شوې ده، ځکه پاکستان کښې دننه د لوئې صوبې يعنې پنجاب نه د يوې نوې عمرانۍ معاهدې غږ راخېژي خو سوال دا دے چې په دې کښې ډېر ناوخته شوے خو نۀ دے؟

دا ټولې خبرې د هغې لړۍ برخې دي چې نن مونږ ته چرته د مضبوط مرکز او چرته د سټرټيجک ډيپت په شکل کښې ښکاري او دا هغه هيلې دي د کومو په وجه چې واړۀ قامونه د ډېرو بشري او سياسي حقونو نه محرومه ساتلے شوي دي او د دې مقصد دپاره کۀ يو خوا غېر قانوني، غېر آئيني او غېر سياسي لارې اختيارولے شي نو بل خوا د مذهب په نوم جهادي تنظيمونه چې کار ورباندې شوے دے او ورته د تشدد او جنګ هغه ټولې لارې چارې او تربيتونه ورکړے شوي دي، د کومو د لاسه چې نن يو ځل بيا پښتون قام په يو لوئے مصيبت کښې اخته کړے شوے دے او د خپل ځائے نه بې کوره کړے شوے دے او د تاريخ په

هغه چوک کښې حېران ولاړ دے چې کوم پله لاړ شي د چا مشرۍ ته سترګې په لار دے او غواړي چې څوک به ئې د يويشتمې صدۍ په دې جديد دور کښې د نړۍ په مخ خپل قامي تشخص او مرام ته ورسوي. دوي ته قدرت يوه بله موقع په لاس ورکړه او دوي ئې د تهذيب او تمدن هغې ځانګو کښې چې ورته د پېښور وادي وئيلے شي، کښې راغونډ کړل چرته چې دوي د خپل ځان پېژند ګلو کولے شي او په نړۍ کښې د يو کُوټلي قام په حېث شناخت خپل کړي.

(مضمون ليکونکے د اريانا انستيټيوټ فار ريجنل ريسرچ اينډ اډواکسي د پېښور څانګې غړے دے.)